**ليکونکی**: پاول انتونوپلوس(Paul Antonopoulos) .

**منبع او خپريدو نيټه** :ګلوبال ريسرچ «2020-09-14» .

**ژباړونکی** : پوهند وی دوکتور سيد حسام «مل» .

---------------------[98]--------------------------

# د افغا نستا ن دسولي خبري دنومبرد ټاکنو دمخه د «ترامپ» وروستی لوی بهرنی سيا ست بريا کيدلي شي ؟

## Afghan Peace Talks Could be Trump's Final Major Foreign Policy Victory Before November's Elections




دا فغا ن چارواکو او د طا لبا نو ترمينځ دسولی خبری د شنبی په ورځ په دوحه کي ، دا فغا نستا ن لپا ره د تلپا تی سولی دبرقرارولو په منظور د(۱۹) کلونونه وروسته دامريکی اود **(نا تو)** ځواکونو دوتلو په هد ف سره پيل شو ، اودامريکی د بهرنيو چارو وزير **ما يک «پمپيو»** لخوا دغه دا فغا نا نوترمينځ دسولی دراوستو موضوع يو تاريخي پيښه وبلل شو، په هرصورت سوال د لته دا ده چي آيا د نومبر يعنی دامريکی دراتلونکی اولسمشری ټاکنو په درشل کي د متحده ايالاتود اولسمشر**«دونا لډ ترامپ »** لپاره د بهرني

پا لیسی بله (بریا) د ننداری لپا ره یوه صحنه ده ؟ یا آیا دا کولي شی چی په ا فغا نستا ن کي رینبتینی سوله راولي ؟

په دوحه کي دغه دا فغا نا نو ترمینځ د سولی پیل شوی مذاکرات کولی شو چی د یو تاریخي پیښی په بڼه توصیف او تعریف کړو ، او دا ځکه چي ا فغا نستا ن هغه لمړنی هیوادوو کوم چي د متحده ایالاتو له خوا د تهاجم اود یرغل لپا ره په نښه شوی وو او هغه هم په دی پلمه چی پر امریکی با ندی د سپټا مبر یو لسم نیتي یرغل د طا لبا نو د متحد القاعده لخوا ترسره شوی یعنی چی ددی یرغل پری دطا لبا نو په متحد (القاعده ) باندي په اچولوسره پر افغانستان اوبیا په کا ل ( 2003) کي پر عراق باندي حمله وکړ کوم چی د دی حملاتو څخه وروسته نړیَ په درامتیک بڼی سره څیره بد له کړ او دامریکی د متحده ایالاتو یو اړخیز لید لوري دغه هیواد په مینځنی ختیځ کي په نه ختمید ونکیَ جګړه کی لا هو کړ – په هرصورت «چین» په سوله ایزه توګه ملا راسته کړ یعنی چی سر راپورته کړ کوم چی د لنډ مها له متحده ایالاتو تر تولو بی پولي نړیوال (یو قطبی) سیتم ځواک پای ته ورساوو چي په (1991) کی د شوروی ا تحا د له ما تی وروسته راپورته شو .

په اصطلاح سره د تروریزم ضد جګړه د ملیونونو انسا نا نو دقربا نی کیدو یا دژوند دله مینځه تلو مسول او همدارنګه په دغه جګړه کی امریکا کم تر کمه (6 ) تریلیون امریکا یی دالر په مصرف رسولي یا په هدر ورکړي دي – تر (2001) کا ل پوري (چین) په نړیوال تصویر یا هنداره کي نه وو یا نه تر سترګو کیدل ، اوداځکه چي هغه هیواد یواځی (3،1) ملیارد دالر داخلی ناخا لص تولید (GDP) لرل ، کوم چي دهغه هیواد په سلونو ملیونو خلک لا هم په ناداری او په فقر کي ژوند کول ، اودنړي اصلی او مرکزی توجه یا پام تقریباً په ځانګړي توګه پر اسلامی تروریزم باندی متمرکز وو، اما نن ورځ اود (20) کلونو څخه په لږه وخت یا مهال کي د«چین » داخلی ناخا لص تولید له (14) تریلیون دالر څخه اغوښتی یعنی چي لوړ شوی دي اود (چین ) دولت په دی یادشوی دوره کي دبشری بی وزلی دکمولو څخه پوره ځارنه کوی چي هیڅکله یی په ا نسا نی تا ریخ کی دا سی چټک حرکت نه ده تر سترګو شوی یا چی نه ده لید لی شوی (پکن ) بی شکه په نړیَ کي د څو قطبی د یو را څرګند ید ونکي رهبر یا پیشوا په حا ل کي خپل ملا راسته کړي یا خپل سر را پورته کړي دي .متحده ایالات تقریباً د (چین ) دتول نیمیا یی ودی د (20) کلونو وروسته د ترلاسه شوی عواید په برابریا په اندازه په جګړوکي مصرف کړي د ما لی له زاویی څخه په ا فغا نستا ن کي دطا لبا نو سره د سولي د توافق ترلاسه کول دامریکی دولت لپا ره په خورا زیا ت اهمیت ولري ، ځکه چی دا (بریا) کولی شي د تش په نامه اسلامی تروریزم سره د مبارزی کولو پر ځای د(چین) دودی یا د پرمختګ په مقا بل کي یولږ نوی منا بع په کار واچوي.

«ترامپ» نه یواځی دهغه د سمد ستی ا نتخا با تی ګټولو له امله له طا لبا نو سره د

سولی د معاملی ته لیواله دي ، بلکه د**(چین)** پر وړاندې د ستراتیژیک پلان له امله هم دي – دیو تیکا و یا با ثبا ته اوامریکا یی دوست ا فغا نستا ن لرل دامریکی لپاره ډیر مهم دي ، ځکه چي دا کولي شی دمرکزی آسیا په سیمه کي د **(چین)** دمخ په زیاتیدونکی نفوذ پرورړاندی دفشار نقطی په بنه کاروکړی ، په هر صورت دیو با ثبا ته افغا نستا ن لرل کوم چی د **(چین)** سره مخا لفت وشی کړلی ، ستونزمن راښکاری اوداځکه چي په افغانستان کي طالبان یواځی وسله وال ځواک نه دی ، نوری ډلی هم شتون لری چي په دی هیواد کي ګډوډی وسا تي لکه ، **داعش**، - البته د (ترامپ) په وړاندي دافغانستان تګ لاره ددی هیواد لپا ره د سولی د معا ملي په موندلو کي یو نه شتون لرونکی مسله ده او هیڅ یوغوڅ تضمین یا ځواکمن دلیل شتون نه لري چي په افغانستان کی دسولی له پلی کید و را وروسته ا فغا نستا ن د **(چین)** ضد پا لیسی غوره کړي .

له طا لبا نو سره خبرې له دوه کا لوراهیسې رواني وې ، او یو کا ل دمخه په قطر کې د ا فغا نستان ترمینځ یوتړون لاسلیک شو.په هرصورت ،په امریکایی اداره کې اختلافاتو دسولې تړون لاسلیک کید ومخه ونیوله.**ترمپ** د تیر کا ل دموافقي هڅي په کوچني تماشا بدلولومفکوره درلوده. **ترمپ** غوښتل چي طالبان او افغان ولسمشر کمپ ډیوید ته راولي چې د امریکا د ولسمشری نمایشیګاه (یا دامریکي دمتحده ایالاتو داستاذی نګین یا نامی ځای اومحل دی ...........**تفصیل ددی قلم پواسطه سره** ) او د اسرایل او مصر تر منځ د(1978) کا ل د سولې تړون د موقعیت له امله شهرت لري. د تیر کا ل د سپتمبر په لومړی نیټه ، د طا لبا نو مشرانو او د ا فغا نستا ن ولسمشر **اشرف غني** د تړون کا پي یا نسخی په چمتو کولو پیل و کړه او قطري چارواکو ته یې وسپا رله. په هرصورت ، په دې وروستیوکې د توافقنا می اودخبرو اترویه اړه لوی مخا لفتونه او نا ندری موجودې وې ،ځکه چې دملي امنیت د وخت سلاکار**جان بولتن** نه یوازې په امریکا کې د طا لبا نو له شتون سره په کلکه مخالفت وکړ ،بلکې د تړون لاسلیک کول یې هم ونه منل اودځکه چې هغه باورلري چی داتوافقنامه به دوام ونه لري. له بلې خوا د متحده ایالاتو د بهرنیو چاروو‌زیر **ما یک پامپیو** په افغا نستا ن کې د سولې تړون لپا ره د **ترمپ** د نوښتونو ملاتړ وکړ.

د سولې خبرو هد ف ددایمي اوربند شرایط ، دقوما ند ا نا نوپه وړاندې د طا لب جنګیا لیو اوملیشو بې وسلې کول ، د ښځو او لږکیو حقوق ، د اسا سي قانون بد لونونه او د قد رت ویش دي. که **ترمپ** د سولې تړون نها یی کولو کې بریا لی شی ، نو هغه به د ولسمشر په توګه یاد شي چي څه لاسته راوړنې لري

--------------------------- **په درنا وی «2020-09-16»**